UNAMA
د ملګرو ملتونو د مرستو د پلاوي دفتر د افغانستان لپاره
د استراتیژیکو اړیکو او ویاند دفتر، کابل، افغانستان
http://unama.unmissions.org

## د افغانستان په اړه د اقتصادي همکاريو څلورم سيمه ييز کنفرانس ته د ملګرو ملتونو د عمومي منشي پيغام

**[د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د عمومي منشي د ځانګړی استازی د مرستيال، مارتين کوبلر له خوا ]**

**استانبول، ترکيه، نومبر ۳، ۲۰۱۰**

زه د ترکيې له حکومت څخه د افغانستان په اړه د اقتصادي همکاريو د څلورم سيمه ييز کنفرانس د کوربتوب لپاره مننه کوم.

له هغه وخت راهيسې چې دغه غونډه په ۲۰۰۵ کې په کابل کې جوړه شوه، د هيوادونو شمير له ۲۰ څخه ۶۰ ته ورسيد. تر ټولو مهمه خبره دا ده چې د غونډې کار نتيجې ورکړې دي.

د افغانستان او پاکستان ترمنځ د ترانزيت نوی تړون لاسليک شو او د دې انتظار باسې چې د دواړو هيوادو د پارلمانونونو له خوا تصويب شي. زه د افغانستان او پاکستان حکومتونو ته له دې امله مبارکي وايم چې د دواړو حکومتونو په ګټه تماميږي.

زه د افغانستان ټول ګاونډي او د سيمې نور هيوادونه دې ته رابولم چې د اقتصادي همکاري په زياتولو کې خپلو هڅو ته ادامه ورکړي. زه ستاسې له هڅو څخه هرکلي کوم چې د ترانسپورتي لارو، انرژي او نشه يې توکو په هکله خپلې نظريې سره شريکې کوئ.

د اقتصادي همکاريو سيمه ييز کنفرانس بايد افغانستان د خپلې پاملرنې مرکز وګرځوي او په هغو ځانګړو موخو زور واچوي چې د ټولو ګډون کوونکو لپاره ګټور دی. کنفرانس بايد په کابل کې پيل شوې پروسه بشپړه کړي چې افغانان د هغې مشرتابه او مسووليت په غاړه واخلي. هره غونډه بايد ريښتينې پرمختګونه رامنځ ته کړي چې د راتلونکو غونډو لپاره د پرمختګ يو بنسټ جوړ کړي. دغه تګلار د نننۍ غونډې د برياليتوب لپاره ډيره ارزښتناکه وخته او د راتلونکې لپاره به همداسې پاتې شي.

زه بيا هم ستاسې له ډير ارزښتناکو هڅو څخه مننه کوم چې د افغانستان او د سيمې د سولې لپاره مو کړې دي. زه تاسو ته په خپلو هڅو کې برياليتوب غواړم.

**Strategic Communication and Spokespersons Unit**
United Nations Assistance Mission in Afghanistan (UNAMA)
Kabul, Afghanistan Tel: 079 000 6121; +39 083 124 6121

http://unama.unmissions.org
Subscribe online to ensure you receive news from UNAMA.